# هفته نامه معارف اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۱۶) ماه رجب المرجب ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه جدی ۱۴۰۴ هـ ش.


**اسلامي شریعت د مهر د کموالي ترغیب کړی دی، خلک دې هڅه وکړي چې د زیات مهر اخیستلو رواج ختم او په کم مهر اکتفاء وکړي.**

د خپښې، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پرمهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی فرمان

## بازدید وزیر محترم معارف از جریان امتحانات ثانویه و مافوق ثانویه مدارس شهر کابل



محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا وزیر معارف امارت اسلامی افغانستان در حالی که از سوی مسئولان ریاست های مرکزی این وزارت مشایعت می شد به هدف نظارت و ارزیابی امتحانات مشترک مراحل ثانویه و مافوق ثانویه مدارس نواحی شانزدگانه شهر کابل، به لیسه عالی حبیبیه تشریف برده و روند امتحان یاد شده را از نزدیک نظارت و ارزیابی نمود.

موصوف حین بازدید از جریان امتحانات مراحل ثانویه و مافوق ثانویه مدارس دینی شهر کابل که در صحن لیسه عالی حبیبیه گرفته شد، ضمن ارزیابی های دقیق و علمی اصول نظم جریان امتحان، تلاش های مسئولان را در این خصوص توصیف نموده و در پیوند به شفافیت و تعادل در امتحان مذکور سفارشات لازمی ارائه کرده، تأکید نمود؛ تقویت تعلیمات دینی و عصری یکی از اولویت های وزارت معارف می باشد.

گفتنی است که وزیر محترم معارف، حین ورود به لیسه مذکور از طرف مسئولان و استادان مورد استقبال گرم قرار گرفت.

## پکتیکا کې د ۱۰ بابه مدارسو او ښوونځیو نوې ودانۍ پرانیستل شوې

د پکتیکا ولایت په یو شمېر ولسوالیو کې د ۹ بابه ښوونځیو او یوې دیني مدرسې لپاره نوې ودانۍ جوړې او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو سربېره، د پکتیکا والي، علماءکرامو او د سیمه ییزو ادارو مسئولینو هم ګډون درلود ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د دغو پروژو د پلي کېدو لپاره، د اسلامي امارت مشرتابه عالي مقام لخوا د ۸۰ مېلیونه افغانیو بودجه منظوره شوې وه، چې له هغې څخه ۶۰ مېلیونه افغانۍ په...

۲مخ


## د کیفیت تضمین محترم معین د پروان ولایت اړوندو دیني مدارسو د آزموینو له بهیر څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق، د ثانویه او مافوق ثانویه آزموینو له بهیر څخه د څارنې او ارزونې په موخه پروان ولایت ته سفر وکړ.

نوموړي د چاریکار ښار په عیدګاه جومات کې د آزموینو د پرانیستې په مراسمو کې د وینا پرمهال وویل: د ښوونیز نظام د کیفیت په ارزونه کې د آزموینو بهیر ځانګړی ارزښت لري او په یاد بهیر کې یې د روڼتیا، عدالت او نظم په اړتیا ټینګار وکړ.

د پوهنې وزارت محترم معین، د یاد ولایت له پوهنې مسئولینو څخه وغوښتل چې، د آزموینې دغه بهیر په صداقت، روڼتیا او عدالت سره پلی کړي.

## د دارالهجرت په ګډون د ثانویه او مافوق ثانویه مدارسو ګډې آزموینې پیل شوې



د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت له پلان سره سم د دارالهجرت په شمول د مدارسو د ثانویه او مافوق ثانویه مرحلو ګډې آزموینې په ټول ملک کې په یو وخت پیل شوې.

د اسلامي زده‌کړو معینیت د مسئولینو په وینا، د یادو آزموینو بشپړ چمتووالي، روڼتیا داډمنولو، نظم او ډسپلین څخه په جدي توګه څارنې لپاره، د پوهنې وزارت اسلامي زده‌کړو معینیت له منسوبینو څخه جوړ شوي پلاوي لا دمخه ولایتونو ته لېږل شوي، ترڅو د پورته ذکر شویو آزموینو پرمختګ ...

۲مخ

## تأکید معین محترم تعلیمات اسلامی بر شفافیت امتحانات مشترک مدارس دینی



محترم الحاج مولوی کرامت الله اخندزاده معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف در سیمینار علمی امتحان مشترک مراحل ثانویه و مافوق ثانویه مدارس دینی که از سوی معینیت تعلیمات اسلامی وزارت معارف با حضور داشت شماری از رؤسای آن معینیت و سایر ریاست های مرکزی وزارت معارف، علمای کرام برگزار شده بود بر شفافیت این امتحانات تأکید نمود.

محترم الحاج مولوی کرامت‌الله آخندزاده در سخنان خود، ضمن ارائه برخی توصیه‌های ضروری به مسئولان امتحانات، نگرانان و مدیران اداری، گفت: این امتحان برای طالبان اهمیت بالایی دارد و تلاش‌های ما نتیجهٔ مطلوب و دلخواه خود را از طریق برگزاری همین امتحانات به دست می‌آورد؛ بنابراین نیاز است که امتحانات با شفافیت کامل برگزار شود. وی افزود؛ « نیت‌های خود را برای رضای الله تعالی خالص سازید، به مادیات اهمیت ندهید و این امتحان و سوالات آن را به‌عنوان یک امانت در نظر بگیرید.»

معین محترم تعلیمات اسلامی همچنان افزود: به‌منظور تأمین شفافیت، از سوی وزارت معارف برای هر زون یک تیم نظارتی تعیین شده است تا بر روند امتحانات نظارت نماید.

سپس رئیس مدارس و دارالحفاظ ها، معلومات مفصل در مورد طرزالعمل و محتوای امتحانات به مسئولان موظف امتحان ارائه نموده و اظهار خوش‌بینی نمود که امتحانات در تطابق به طرزالعمل نافذه اخذ خواهد شد.

## دیدار معین مالی و اداری وزارت معارف از روند امتحانات ثانویه و مافوق ثانویه طلاب مدارس ولایت‌های هرات و بادغیس

امتحانات مشترک فاضلین سال ۱۴۴۷ هـ ق مراحل ثانویه و مافوق ثانویه مدارس دینی در ولایت های هرات و بادغیس ، با حضور محترم الحاج مولوی صبغت‌الله وصیل، معین مالی و اداری وزارت معارف و هیئت همراه شان در حالی که از سوی مسئولان معارف آن ولایت‌ها همراهی می شد برگزار شد.

معین محترم مالی و اداری وزارت معارف، بر شفافیت، نظم و رعایت اصول امتحانات تأکید کرد و از هیئت‌های ناظر خواست تا روند امتحانات را با دقت کامل نظارت نمایند. هم‌چنان، محترم مولوی عبدالقدوس قدوسی، رئیس دارالعلوم‌های وزارت معارف، گفت: طلاب‌العلم که این امتحانات را موفقانه سپری نمایند، سند تحصیلی دوازده پاس و چهارده‌پاس برای‌شان تفویض خواهد شد.




در همین حال، محترم مولوی رحمت‌الله جابر، رئیس معارف ولایت هرات نیز با اطمینان از شفافیت و عادلانه بودن این روند، گفت که حدود ۱۷۰۰ تن از طلاب‌العلم دوره‌های خامسه، ثانویه و مافوق ثانویه این ولایت در آن اشتراک دارند.

گفتنی است که امتحانات ثانویه و مافوق ثانویه مدارس دینی داخل و دارالهجرت مطابق پلان معینیت تعلیمات اسلامی این وزارت در سراسر ملک و دارالهجرت شروع و در شش روز به پایان می رسد.

## در این شماره


ژمنی رخصتی؛ د زده‌کړې د پیاوړتیا او روښانه سبا پیل — ۲مخ

کمک بیش از ۲۶ میلیون افغانی باشنده گان دایکندی با معارف — صفحه ۲

د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د اسلام راوړلو واقعه — ۳مخ

سرمقاله

# ژمنی رخصتی؛ د زده‌کړې د پیاوړتیا او روښانه سبا پیل

بسم‌الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلَوٰةُ وَالسَّلامُ عَلَی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَ عَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

ژمنۍ رخصتۍ د طلاب العلم او زده‌کوونکو په تعلیمي او ورځني ژوند کې یو مهم پړاو ګڼل کېږي، ځکه دا هغه وخت دی چې طلاب العلم او زده‌کوونکي له درسي بوختیا وروسته دمه اخلي او په دې موده کې کولی شي خپل تېر کال وارزوي، د تېر کال نیمګړتیاوې جبران او د راتلونکي کال لپاره ځانونه چمتو کړي. که دا رخصتۍ یوازې په بې‌هدفه تفریح، خوبونو، د موبایل په استعمال او یا د تلویزیون په لیدلو تېرې شي، نو نه یوازې دا فرصت به مو له لاسه وتلی وي بلکې خپل وخت به مو هم بې ځایه هدر کړی وي، خو که په سمه توګه ترې ګټه واخیستل شي، د علم، فکر او شخصیت د ودې لپاره ډېرې ګټورې تمامېږي.

طلاب العلم او زده‌کوونکي په دې موده کې فرصت لري تر څو هغه درسونه تکرار کړي چې د کال په بهیر کې یې ورته وخت نه درلود، همدارنګه د خپل ضعف ټکي وپېژني او د نوي ښوونیز کال لپاره ځانونه چمتو کړي. همدارنګه، د درسي کتابونو پرته د نورو علمي کتابونو لوستل، د مطالعې عادت پیاوړي کول او د نوو مهارتونو زده کړه کولی شي د دوی ذهن ته وده ورکړي او پر ځان باور یې زیات کړي. ژمنۍ رخصتۍ یوازې د ذهني ودې لپاره نه، بلکې د بدني روغتیا لپاره هم مهمې دي؛ سپورټ، منظم خوب او سالم خواړه د زده‌کوونکو انرژي لوړه ساتي او هغوی د راتلونکي کال د هڅو لپاره چمتو کوي.

په دې بهیر کې د والدینو رول هم ډېر مهم او رغنده دی. والدین کولی شي د لارښوونې، هڅونې او مناسب چاپېریال په برابرولو سره د خپلو اولادونو لپاره د بریا زمینه برابره کړي. که والدین د فشار او سختۍ پر ځای د تفاهم او مینې له لارې له اولادونو سره مرسته او تعامل وکړي، نو اولادونه به یې په خپله د زده‌کړې پر لور میلان پیدا کړي. د وخت څخه ښه ګټه اخیستنه، د بې‌ګټې مصروفیتونو محدودول او د مطالعې لپاره د آرام چاپېریال برابرول هغه مسئولیتونه دي چې د والدینو له پاملرنې پرته نیمګړې پاتې کېږي. سربېره پر دې، کله چې والدین خپله د مطالعې، نظم او مثبت فکر ښه بېلګه وړاندې کړي، اولادونه ترې اغېزمن کېږي او هماغه لارې تعقیبوي.

ژمنۍ رخصتۍ که په سمه توګه مدیریت شي، د راتلونکي ښوونیز کال لپاره یو قوي بنسټ جوړوي. زده‌کوونکی چې له رخصتیو وروسته له ذهني آرامتیا، منظمې مطالعې او روښانه موخو سره ښوونځي ته ستنېږي، د کال په اوږدو کې یې د بریا چانس ډېر لوړ وي. په حقیقت کې، دا رخصتۍ د وخت ضایع کولو نه، بلکې د ځان جوړونې فرصت دی. د اولادونو هڅه او د والدینو ملاتړ که یو ځای شي، نو ژمنۍ رخصتۍ به د پرمختګ، بریا او روښانه راتلونکي لپاره په یوه با ارزښته پانګه بدله شي.

## کمک بیش از ۲۶ میلیون افغانی باشنده گان دایکندی با معارف

باشنده گان ولایت دایکندی از آغاز سال جاری تاکنون با همت ستودنی بیش از ۲۶ میلیون افغانی به معارف این ولایت کمک کرده‌اند. به اساس معلومات ریاست معارف آن ولایت، این کمک‌ها که ۲۶ میلیون و ۹۱ هزار و ۱۷۶ افغانی برآورد شده، گامی مهم در مسیر توسعه و ارتقای نظام آموزشی در این ولایت بوده است.

محترم الحاج مولوی شیرمحمد صدیقی، رئیس معارف ولایت دایکندی، ضمن قدردانی از حمایت‌های مادی و معنوی مردم، تأکید کرد که این کمک‌ها برای ساخت و ترمیم ۶۸ مرکز تعلیمی در نقاط مختلف این ولایت به مصرف رسیده و نقش بزرگی در روشن نگه داشتن چراغ علم و دانش در میان فرزندان این سرزمین داشته است.

وی افزود: رشد و شکوفایی آموزش و پرورش، بدون حمایت مردم ممکن نیست از این رو برای همه هموطنان ما لازم است تا دست به دست هم داده و با حمایت از معارف در ملک، آینده‌ای روشن برای نسل‌های آینده را رقم زنند.

## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د تېرې اونۍ فعالیتونه

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد د رئیس محترم الحاج مولوي جمعه خان "سروري" په لارښوونه، تېره اونۍ د یاد ریاست مسئولینو، د کابل ښار اړوندو ښوونیزو حوزو له آمرینو سره غونډه وکړه، چې په ترڅ کې یې د عالیقدر امیر المؤمنین «حفظه الله تعالی» د فرامینو، د امربالمعروف د قوانینو، د دعوت او ارشاد ریاست د نصاب تطبیق او تدریس په اړه هر اړخیز بحثونه ترسره شول.

همدارنګه د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس محترم الحاج مولوي جمعه خان سروري د کارکوونکو چارو لوی رئیس محترم مفتي شفیع الله منصور سره د امر بالمعروف د انفاذ هیئت اړوند غونډه وکړه او پر یو لړ مهمو چارو باندې تفصیلي خبرې وشوې.

دغه راز د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت څخه د ارزونې په موخه راغلي پلاوي د پوهنې وزارت د کارکوونکو صورت او سیرت کتنې سربېره، لمانځه او دیني درسونو ته حاضرېدلو بهیر اړوند څارنه ترسره کړه، چې پایلې یې مثبتې وارزول شوې.

په ورته مهال، د دعوت او ارشاد ریاست مسئولینو تېره اونۍ، د مرکزي هستې اړوندو منسوبینو د صورت او سیرت څخه څارنه وکړه او هغوی ته یې په نبوي سنتو د ځان سمبالولو په تړاو لازمي توصیې وکړې.

همدا راز د پوهنې وزارت د مرکزي هستې ټولو کارکوونکو ته د دیني درسونو لړۍ په نورمال ډول روانه وه.

په ورته مهال د ولایتونو له پوهنې ریاستونو او د کابل ښار پوهنې ریاست څخه ترلاسه شوي راپورونه ښيي، چې په تېره اونۍ کې له ټاکل شوي مهالوېش سره سم، د ښوونیزو مرکزونو منسوبینو ته د دعوت او ارشاد درسونو دوام درلود؛ لکه د پخوا په څېر، په مرکزي هسته کې د یو شمېر ریاستونو د کارکوونکو وضعیت له نږدې وارزول شو او هغوی ته اړینې سپارښتنې وشوې.

## د روان کال په بهیر کې په بدخشان ولایت کې لسګونه مدرسې او ښوونځي ترمیم او جوړ شوې دي

د بدخشان ولایت پوهنې ریاست مسئولین وایي د ۱۴۰۴ ل کال له پیل تر دې مهاله، د ارګو، درایم، ارغنجخواه، تشکان، کوف‌آب، خواهان، مایمي، کوهستان، شهر بزرګ، یفتل پایان، کاشیم، خاش، جرم، بهارک، شهدا، وردوج، یمګان، کران او منجان ولسوالیو کې ۳۱ بابه مدارس او ښوونځي او د یاد ولایت د زیباک ولسوالۍ پوهنې آمریت ودانۍ د پوهنې وزارت له بودجې څخه جوړې او بیارغول شوې دي، چې ټولټال لګښت یې ۸ مېلیونه، ۴۹۳ زره او ۱۳۹ افغانۍ راغلی دی.

همداراز یاد مسئولین زیاتوي چې په دې ولایت کې د مرستندویه ادارو لخوا هم یو شمېر ودانیزې پروژې پلې شوې دي چې ټولټال لګښت یې ۳۲ مېلیونه، ۲۰۶ زره او ۹۷۰ افغانیو ته رسېږي.

### پکتیکا کې د ۶۰ مېلیونه افغانیو په ...

یادو پروژو لګول شوې دي.

د پکتیکا والي محترم مولوي عبدالخالق عابد په خپله وینا کې وویل، چې د یادو ودانیو پرانیستنه، د پوهنې په وده او ښوونیز کیفیت په پیاوړتیا کې ژور اغېز لري.

په دې غونډه کې د پکتیکا ولایت د پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالوکیل خالد وویل، چې د یادو ښوونځیو په هره ودانۍ کې ۸ درسي خونې، احاطوي دېوال، د پاکو اوبو سیستم او نور اړین توکي شتون لري، چې په بشپړېدو سره یې د سیمې زرګونو تنو زده‌کوونکو ته د زده کړې مناسب ښوونیز چاپېریال را منځ ته شوی.

### د دارالهجرت په ګډون...

د ولایتونو له پوهنې مسئولینو سره په ګډه وڅاري.

د ولایتونو له پوهنې ریاستونو څخه راپورونه ښيي، چې د دیني مدارسو د ثانویه او مافوق ثانویه پړاوونو ګډې آزموینې، د اسلامي زده کړو معینیت مسئولینو او د پوهنې ریاستونو د نورو مسئولینو او استادانو د پلاوي په حضور کې، له ټاکل شوي مهالوېش سره سم پیل شوې.

د پوهنې وزارت مسئولینو د یادو آزموینو له بهیر څخه د لیدنې او څارنې پرمهال، په آزموینه کې د عدالت په اړه خبرې وکړې او ګډونوالو ته یې د آزموینې د بشپړې روڼتیا ډاډ ورکړ او له هغوی یې وغوښتل چې د آزموینې ترتیب او اصول مراعات کړي.

### په ۱۴۰۴ هـ ل کال کې د میلیاردنو ...

پروژو شاوخوا ۲.۵ میلیارد افغانۍ لګښت راغلی چې د پوهنې وزارت د عادي بودجې او د همکارو بنسټونو لخوا مرسته شوې دي.

نوموړي همداراز وویل: په کابل ښار، بلخ، غزني، سمنګان، بامیان، کنړ، لوګر، پکتیا، فاریاب، لغمان، بدخشان، نیمروز، ننګرهار، هلمند، خوست، کندهار، کابل ولایت، سرپل، پروان، بغلان، بادغیس، کاپیسا، نورستان، هرات، ارزګان، میدان وردګ، فراه، زابل، جوزجان، غور او پکتیکا ولایتونو کې د ۹۷۰ بابه ښوونځیو ودانۍ ترمیم او یا هم تر کار لاندې دي، د نوموړي د معلوماتو له مخې، پر یادو ترمیماتي پروژو شاوخوا ۱ میلیارد، ۲۷۰ میلیونه، ۷۴۶ زره او ۲۷۵ افغانۍ لګښت راغلی چې د پوهنې وزارت د عادي بودجې څخه تمویل او یو شمېر پروژې د مرستندویه ادارو په مالي ملاتړ بشپړې شوې دي.

د پوهنې وزارت محترم ویاند د خپلو خبرو په یوه برخه کې وویل: چې د روان کال په بهیر کې هېوادوالو هم د زده کوونکو د اړتیاوو پوره کولو په برخه کې په پوره اخلاص مالي مرستې کړې چې د پوهنیز نظام د پیاوړتیا په برخه کې اغېزمنې تمامې شوي او دا د معارف سره د هېوادوالو د مینې او معارف په وده کې ددوی د ژمنتیا ځرګندونه کوي. نوموړي په دې اړه وویل: د پکتیکا، نورستان، کابل، کنړ، ننګرهار او میدان وردګ ولایتونو په مرکزونو او ولسوالیو کې د خلکو او همکارو بنسټونو له لوري د خوراکي توکو، نغدو پیسو او ودانیو په برخه کې شاوخوا ۹۲ میلیونه، ۹۱۴ زره او ۴۸۴ افغانۍ مرسته شوې ده، چې دا مرستې د ښوونیز چاپېریال په برابرولو او د زده‌کوونکو د اړتیاوو د پوره کولو په موخه ترسره شوې دي.

ښاغلي حمزه د معارف بنسټونو په پیاوړتیا کې د هېوادوالو رغنده ونډه او مرستې و ستایلې او وویل: د پوهنې وزارت د ټولو خیریه بنسټونو او معارف دوسته خلکو څخه مننه او قدرداني کوي، چې د پوهنیز نظام د لا بډایه کولو په برخه کې مرسته او همکاري کوي.

## لنډ خبرونه

### غزني

د غزني ولایت مرکز سربېره په ګیرو، اندړو او خوګیانې ولسوالیو کې د ۴ بابه ښوونځیو ترمیم او بیارغونې چارې بشپړې او د پوهنې ریاست د مسئولینو، د یو شمېر سیمه‌ییزو ادارو استازو، علماءکرامو او مشرانو په حضور کې پرانیستل شول.

د غزني ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي میر نصیر احمد حسیني وایي، د یادو ښوونځیو د بیارغونې مالي لګښت چې ۷.۲ مېلیونه افغانۍ کېږي د پوهنې وزارت له بودجې څخه ورکړل شوې.

### جوزجان

د جوزجان ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي اوس مهال په یاد ولایت کې ۱۵ پروژې تر کار لاندې دي، چې پکې د اداري ځانګو سربېره، د ۳ بابه ښوونځیو لپاره د نویو ودانیو جوړول هم شامل دي، چې ټولټال لګښت یې ۴۵ مېلیونه افغانۍ کېږي او د پوهنې وزارت له بودجې څخه ورکول کېږي.

همدارنګه د یو شمېر همکارو بنسټونو په مرسته ۵ مېلیونه او ۶۱۹ زره افغانیو په لګښت د ۱۲ بابه ښوونځیو ودانیو او اداري ځانګو جوړولو چارې روانې دي.

### پکتیا

ریاست معارف ولایت پکتیا برای لیسه مرکزی احمدخیل مربوط ولسوالی احمدخیل آن ولایت به کمک مالی مردم علم‌دوست، یک باب صنف مجهز کمپیوتر به هزینۀ ۸۱۰ هزار افغانی اعمار نمود که مجهز به ۳۱ پایه کمپیوتر، ۱۸ پایه میز، ۳۶ پایه چوکی، سیستم برق آفتابی و سایر تجهیزات ضروری آن می‌باشد.

محترم الحاج مولوی عبدالقیوم فاروقی، رئیس معارف پکتیا از این اقدام نیک اهالی آن جا ستایش کرد و از دیگران نیز خواست تا در چنین همکاری‌های مفید سهم فعال بگیرند.

### لوگر

مسئولان ریاست معارف ولایت لوگر می‌گویند که یکتن از باشنده‌گان معارف دوست این ولایت به نام محترم حاجی احمد الله داودزی برای لیسه عالی منگلو در ولسوالی ازره به تعداد ۱۰ پایه کمپیوتر لپ تاپ و یک پایه پرینتر رنگه که ارزش مجموعی آن به ۱۰۰ هزار افغانی می‌رسد، مساعدت نمود.

### سمنگان

ورکشاپ ارتقای مهارت های معلمین زیر عنوان «ترویج آموزش و یادگیری موثر» برای ۶۲ تن اعضای مسلکی معلمین و آمرین معارف ۸ ولسوالی ولایت سمنگان دایر شد

### کابل

د کابل ښار پوهنې ریاست په همغږۍ او د یوې همکارې ادارې په مالي مرسته د کابل ښار اړوندو بېلابېلو ښوونځیو ۳۶۰ تنو زده‌کوونکو ته قرطاسیه وویشل شوه، چې ورسره هم‌مهاله د شپاړسو تعلیمي حوزو ۳۰ نورو ښوونځیو ته هم سپورټي وسایل وویشل شول.

### بدخشان

به کمک مالی اهالی ولسوالی یاوان ولایت بدخشان، صنوف درسی لیسه آن ولسوالی به مصرف ۵۳۱۸۰ افغانی ترمیم شد.

# نبوي ملغلرې

## څوک چې آساني او نرمي کوونکي وي

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ كَانَ هَيِّنًا لَيِّنًا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ. (شعب الایمان)

ژباړه: د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې آساني او نرمي کوونکي وي، الله جل جلاله به د دوزخ اورورباندې حرام کړي.

***

## د نیکو اخلاقو مقام

عَنْ أَبِى الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَا مِنْ شَىْءٍ يُوضَعُ فِى الْمِيزَانِ أَثْقَلُ مِنْ حُسْنِ الْخُلُقِ وَإِنَّ صَاحِبَ حُسْنِ الْخُلُقِ لَيَبْلُغُ بِهِ دَرَجَةَ صَاحِبِ الصَّوْمِ وَالصَّلاَةِ ». (سنن الترمذي)

ژباړه: د ابو درداء رضی الله عنه څخه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: داسې شی نشته چې د حساب په تله کې ایښودل کېږي، چې د نېکواخلاقو څخه دې دروند وي. او بې شکه چې د نېکو اخلاقو څښتن ته د لمونځ کوونکي او روژتي درجې رسیږي.

***

## سخن نیک گفتن صدقه است

وعن أبي هريرة رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: والكلمة الطيبة صدقة. (رواه البخاري)

ترجمه: از حضرت ابو هريرة رضي الله عنه روایت است، که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: سخن نیک وخوب گفتن صدقه است.

***

## رحم وکړئ چې پر تاسو رحم وشي

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: ارْحَمُوا تُرْحَمُوا، وَاغْفِرُوا يُغْفَرْ لَكُمْ، وَيْلٌ لِأَقْمَاعِ الْقَوْلِ وَيْلٌ لِلْمُصِرِّينَ الَّذِينَ يُصِرُّونَ عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ. (شعب الايمان)

ژباړه: عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه وفرمایل: رحم وکړئ چې پر تاسو رحم وشي، ببښنه وکړئ چې تاسي ته ببښنه وشي، هلاکت دې وي د هغو خلکو لپاره چې خبرې اوري خو عمل نه پرې کوي، هلاکت دې وي د هغو خلکو لپاره چې پر خپلو (بدو) کارونو باندې ټینګار کوي په داسې حال کې چې دوی هم پوهېږي.

***

## د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د اسلام راوړلو واقعه

ربیعه بن کعب ویلي: د ابوبکر صدیق رضي الله عنه اسلام راوړل داسې وو لکه د آسمان له لوري الهام (اشاره). ځکه هغه د شام په سفر سوداګرۍ ته تللی و، هلته یې یو خوب ولید، دا خوب یې بحیرا راهب ته بیان کړ، بحیرا ترې وپوښتل: ته د کوم ځای یې؟ ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه وویل: د مکې یم. بیا یې ترې وپوښتل: د مکې د کومې قبیلې یې؟ ویې ویل: د قریشو یم. بیا یې وپوښتل: څه کار کوې؟ هغه وویل: سوداګر یم.

نو بحیرا ورته وویل: که الله تعالی ستا خوب رښتیا کړي؛ نو ستا په قوم کې به یو نبي راځي، ته به د هغه په ژوند کې د هغه نږدې ملګری او وزیر یې او د وفات وروسته به د هغه ځای ناستی (خلیفه) شې.

ابوبکر رضي الله عنه دا خبره پټه وساتله، تر هغه چې نبي کریم ﷺ مبعوث شو، ابوبکر صدیق رضي الله عنه حضور ته ورغی او ویې ویل: ای محمده ﷺ ته چې د کوم نبوت دعوه کوې، دلیل یې څه دی؟

نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: «هماغه خوب چې تا په شام کې لیدلی و.»

نو ابوبکر رضي الله عنه، نبي ﷺ په غېږ کې ونیو، د تندي منځ یې ور ښکل کړ او ویې ویل:

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ.

(سير السلف الصالحين ج۱ ص۵۱)

## راهکار های برای اینکه مالک ذهن خود باشید

- همواره از کلمات مثبت در گفت و گوهای درونی تان استفاده کنید. استفاده از کلمات مثل: من میتوانم،من قادرم، این کار ممکن است، این کار میتواند انجام شود.
- گفت وگوهای درونی تان را با احساسات خوشبختی، قدرت و موفقیت همراه سازید.
- به افکار منفی اعتنا نه کنید.به آرامی از کار کردن به این نوع افکار دوری کنید و آنها را با افکار خوشی بخش و سازنده جایگزین کنید.
- قبل از شروع هرکاری، به طور مشخصی در ذهن تان نتایج موفقیت آمیز آن را تجسم کنید. اگر با اطمینان و توکل به خداوند جل جلاله به آن تمرکز کنید، مسلماً با نتایج دلخواه تان روبه رو می شوید.
- هر روز حداقل یک صفحه نوشته های روحیه بخش بخوانید.
- کتاب های را مطالعه کنید که برای شما روحیه می دهد و شما را خوشحال میکند.
- با افرادی نشست و برخاست کنید که مثبت اندیش هستند.
- ورزش کنید، تفریح سالم داشته باشید و در فعالیت های خوب شرکت کنید.

## در آرزوی یک افغانستانِ مرفه

میهنم ترا خواهم، پُر ز لاله و ســـــنبُل ‌ کوه دشـــت صحرایت، ای وطن شود پرگُل
آب های شــــرینت، هرطرف روان بادا ‌ هرنفـــــس به گوش آید، صوت دلکش بُلبُل
ابری رحــــمتی حق را، برتوآسمان آرد ‌ پرزنان کـــــــبوترها، صلح ارمغان آرد
چون برادر و خواهر، هم وطن به هم دیگر ‌ بـــــین مردمت میهن، عشقی جاویدان آرد
باسرور دلشادی، من ترانه خـــواهم خواند ‌ ازنــــــشاط آهنگم، بی بهانه خواهم خواند

شعر میسرایم من، نغمه خوان شود شهزاد
وصف میهنی خود را، جاویدانه خواهم خواند

سید محمد شهزاد

## تو شخص بزرگ و با شرافتی هستی اگر...

آبروی دیگران را مانند آبروی خودت محترم بدانی...

تو آزادي، اگر...

خودت را کنترول کنی، نه دیگران را....

تو مهرباني، اگر....

وقتی دیگران مرتکب اشتباهی می شوند، آنها را ببخشی....

تو شادی، اگر....

گلی را ببینی و به خاطر زیباییش خدا را شکر کنی....

تو ثروتمندی، اگر....

بیش از آنچه نیاز داری نداشته باشی....

تو دوست داشتنی هستی، اگر....

دردهایت تو را از دیدن دردهای دیگران کور نکرده باشد...

اگر چنین است....

به بزرگی ات افتخار کن...

Marif
Weekly

کتنپلاوی: شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»
مسئول مدیر: سعید «جلال»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوري»

صفحه آرا : محمد قسیم «یعقوبي»
شمېر : ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت
**د پوهنې کاروان مینه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې لیکنې، وړاندیزونه او نیوکې په لاندې برېښنا لیک او تلیفون شمېرې له موږ سره شریکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 316 /2026

# د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب‌الله آغا لوګر ولایت ته سفر وکړ

د پوهنې وزیر محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا لوګر ولایت ته د سفر په ترڅ کې د یاد ولایت د پوهنې له رئیس محترم الحاج عبدالرحمن حمیدي سره وکتل.

په دې کتنه کې د لوګر ولایت د پوهنې رئیس د پوهنیز وضعیت، روانو فعالیتونو، لاسته راوړنو او شته ننګونو په اړه د پوهنې محترم وزیر ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.




د پوهنې محترم وزیر د لوګر ولایت د پوهنې مسئولینو هڅې او صادقانه خدمتونه وستایل او د الله جل جلاله له درباره څخه یې د هغوی لپاره د لا بریاوو او توفیق غوښتنه وکړه.

وروسته، د پوهنې محترم وزیر په خیرالبشر جومات کې د طلاب‌العلم د ثانویه او مافوق‌الثانویه مرحلو د ګډو آزموینو له بهیر څخه له نږدې څارنه وکړه.

نوموړي د آزموینو د شفاف، منظم او معیاري تطبیق پر ارزښت ټینګار وکړ او له طلاب‌العلم یې وغوښتل چې د دیني زده کړو په برخه کې لا زیات کوښښ او خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

# په ۱۴۰۴ هـ ل کال کې د میلیاردونو افغانیو په لګښت سلګونه ښوونځي او مدرسې جوړې شوې

د زده کوونکو لپاره د معیاري، خوندي او سالم ښوونیز چاپېریال را منځ ته کولو په موخه د افغانستان اسلامي امارت د پوهنې وزارت د روان ۱۴۰۴ ښوونیز کال له پیل راهیسې تر دې مهاله د عادي بودجې څخه او د هېوادوالو په مالي ملاتړ همدارنګه د پوهنې په برخه کې د یو شمېر همکارو بنسټونو په مالي مرسته توانېدلی چې د ملک په کچه په سلګونو مدرسې او ښوونځي جوړ او ترمیم کړي، چې په دې سره د ملک په لسګونو زره زده کوونکو او طلاب العلم ته د زده کړې



مناسب او خوندي چاپېریال رامنځ ته شوی دی.

د پوهنې وزارت ویاند محترم قاري منصور احمد حمزه د معارف اونیزې سره د ځانګړې مرکې په ترڅ کې وویل: د ۱۴۰۴ ښوونیز کال له پیل راهیسې په کابل ښار، غزني، بامیان، کنړ، جوزجان، لوګر، پکتیا، نیمروز، لغمان، سرپل، زابل، غور، ارزګان، کندهار، فاریاب، هرات، بغلان، فراه او پکتیکا ولایتونو کې د ۲۳۸ بابه ښوونځیو او مدارسو لپاره نوې ودانۍ جوړې شوې او یا هم تر کار لاندې دي. د ښاغلي حمزه د معلوماتو له مخې پر دغو رغنیزو...

۲مخ

# د اسلامي زده کړو محترم معین د ننګرهار ولایت د دیني مدارسو له ثانویه او مافوق ثانویه آزموینو له بهیر څخه لیدنه وکړه

د ننګرهار ولایت د دیني مدارسو د طُلابو ثانویه او مافوق ثانویه ګډه



آزموینه د پوهنې وزارت اسلامي زده‌کړو معین محترم الحاج مولوي کرامت الله آخندزاده او د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم شیخ الحدیث محمد شریف حلیمي په حضور کې ترسره شوه.

د پوهنې وزارت د اسلامي زده‌کړو محترم معین د آزموینې ګډونوالو ته ډاډ ورکړ، چې دغه آزموینې به په بشپړ شفافیت سره ترسره او د هېچا حق به تر پښو لاندې نشي.

په ورته وخت کې، د ننګرهار ولایت پوهنې رئیس څرګنده کړه چې د یاد ولایت د مدارسو شاوخوا ۱۵۰۰ تنو طلابو په دې آزموینه کې برخه اخیستې او په پلان کې ده چې بریالیو ګډونوالو ته به د ۱۲ پاس او ۱۴ پاس سندونه ورکړل شي.

# سفر معین محترم تعلیم و تربیه وزارت معارف به ولایت زابل



محترم شیخ عبدالمالک حقانی معین تعلیم و تربیه وزارت معارف به هدف نظارت از جریان امتحانات مراحل ثانوی و مافوق ثانوی مدارس دینی و بررسی سایر امور تعلیمی و تربیتی ولایت زابل، عازم آن ولایت شد.

در ابتداء معین محترم تعلیم و تربیه همراه با رئیس و مسئولان معارف آن ولایت ، به محل امتحانات یاد شده تشریف برده و از نزدیک جریان امتحان را نظارت و ارزیابی نمود و بر شفافیت، اصول نظم امتحان، تعادل و تعمیل طرزالعمل امتحان تأکید نموده به مسئولان هدایات لازم سپرد.

قرار است که محترم معین تعلیم و تربیه به شش ولایت دیگر نیز سفر کند تا روند امتحانات را از نزدیک ارزیابی کرده و برای بهبود امور تعلیمی نیز، رهنمودهای لازم ارائه نماید.

# پایان سیمینار آموزشی برای کارمندان بخش های مالی و تکنالوژی معلوماتی

طبق پلان ریاست عمومی امور کارکنان وزارت معارف، برنامه آموزشی ۵ روزه برای کارمندان ریاست‌های مالی و حسابداری و تکنالوژی معلوماتی و مدیران بخش های معاشات و سیستم ثبت الکترونیکی معاشات ریاست های معارف مرکز و ولایات زیر نام «سیستم معاشات وزارت معارف و مالیه» و برگزار شد.

در این سیمینار محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق، معین تضمین کیفیت وزارت معارف در مورد شفافیت در معاشات، امکانات، اخلاق نیکو و برخی از موضوعات مربوط سخنرانی نمود.

سپس، محترم الحاج مولوی پاینده محمد تعلیم، رئیس انسجام امور ولایتی وزارت معارف نیز طی سخنرانی خود، در مورد حس مسئولیت پذیری در وظایف، وفاداری، ارزش وقت و حفظ بیت‌المال معلومات ارائه کرد و اشتراک‌کنندگان را تشویق نمود تا وظایف روزانه خود را با



اخلاص کامل انجام دهند.

این سیمینار پس از ۵ روز برگزاری موفقانه با توزیع تائید نامه ها به شرکت‌کنندگان به پایان رسید.

**بعد از نامزدی، پوشاک (لباس های) رواجی و تکراری منع است، یکبار در سال اجازهٔ بردن پوش (لباس) فقط به عروس از طرف داماد مطابق توان بدون اسراف می باشد، بردن پوشاک (لباس ها) از طرف عروس به داماد مطلقاً منع است.**

فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد جلوگیری از رواج های نادرست هنگام خویشی، عروسی ها، مصیبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره